


صیام الدین « پسرلی »


د نشر نیته : 25 اپریل 2015 م

# د کمزورو سیاستمدارانو، کمزورې پریکړې






د سیاستمدارانو قدرت او هوډ د هغو له خبرو څخه معلومیږي، سیاستمدار چې ژمنه کوي او یا پریکړه کوي، نو باید تطبیق یې هم کړي. که د عملي کولو په وخت کې له خنډ او فشار سره مخ کیږي او خپل پریکړه بدلوي په اصل کې دا د سیاستمدار کمزورتیا په ګوته کوي.

سیاستمدار یا مشر، چې کله پریکړه کوي، نو د هر څه د مخه باید د موضوع مختلفي خواوي وڅیري، په دې ځان پوه کړي، چې د پریکړې د عملي کیدو پر وخت کې له کومو ستونزو سره مخامخ کیږي، که ستونزي له منځه وړلای شي نو پریکړه وکړي او که لمنځه وړلای نه شي، نو بدیلي لارې دې ورته ولټوي.
که د مشر پریکړه د مشورو او تقسیماتو په اساس وي، نو مخکې له دې چې اختلافات را وپاریږي باید مشوره وکړي بیا خپل پریکړه اعلان کړي.

د فشار په اساس د مشر د پریکړي په بدلولو سره لاندې منفي تاثیرات زیږول کیږي.

اول: مخالفه ډله یا د فشار قوه ځآنته غره کیږي او د قدرت احساس کوي او ددې توان پیدا کوي، چې خپلې مداخلې ډېري کړي.

دوهم: د مشر ګمزورتیا ښکاره کوي، چې مشر د خپل پریکړي د عملي کولو توان نه لري او یا هم د تصمیم نیوني ښه مدیریت نه لري.

دریم: د دریمي ډلي یا شخص حیثیت او شخصیت جریحه داره کیږي.

څلورم: د مشر پر وړاندې عامه ذهنیت هم خرابیږي.

پنځم: د ډلو او اشخاصو تر منځ اختلافات ډېریږي، په نتیجه کې ددې پر ځای چې دغه ډلي تعمیري او اساسي کارونه تر سره کړي، د غچ اخیستلو په فکر کې وي.

مشر باید د مشرتوب خاصیت ولري او په پخپلو پریکړو کې جدی او قاطع ووسي. پریکړه یې باید بې طرفه وي او داسې پریکړه دې نه کوي چې سبا پرې پښیمانه وي او د نورو د اختلافاتو سبب شي.
د مشر د ښو پریکړو د عملي کیدا په هیله

****
صیام الدین « پسرلی »
کابل

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org